عنایت الله پویان

**یادونه**: دغه دوه پورتني شعرونه د خدای بښلي ډاکتر نجیب الله د شهادت د ورځې په مناسبت د عروضی نظم په قالب کې ما لیکلي دي کله چې د هغه سترګې له دغې کرغیړنې دنیاګۍ څخه پټې شوې او اوبه له ورخه واوښتې خلک یې په ارمان کې شو خو دغه ارمان د افغانستان د سولې لپاره ګټه نه لری او ما د افغانستان د خلکو د ارمان په وړاندې د شهید نجیب الله له خولې نه د ګیلې په توګه دا سې لیکلي دي.

# د ګناه کفارې



جانانه زه د ښایست ګل وم
خو تا نه پیژاندم
نه دې سر تاج کړم د کاکل
نه دې د غاړې امیل
ته د کبرونو لور وې
مینه له تانه مروره لاړه
ګل دې له لاسه ولوید
او په ګناه واوښتې
ته د شهوت په زولنو کې شوې اسیره بندي
تا مینه ووژله
تا د آسمان غضب را وُپاراوه
اوس به دا ستا د ګناهونو د کفارو بدل کې
دغه بې کوره وږي- تږي خلک
خپل ماشومان، د اور لمبو ته سپاري
اوس به دا ستا ، د ګناهونو ،
د عصیان په تَس کې
وچ لانده دواړه،
د تناره په یوه اور کې سوځي